رسول باوری

# د استاد کهزاد دتلین درویشتم کال په مناسبت



## خدای بخښلئ احمد علي کهزاد د افغاني پوهانو له نظره :

خدای بخښلئ استاد کهزاد په ۱۳۶۲ لمریز سپوږمیز کال د لیندی میاشتي په دریمه نېټه د دې نړی څخه سترګي پټي کړې. دادئ اوس پوره درویشت کاله تیر شول چي د هېواد هغه ستر مورخ زموږ په منځ کي نشته، دادئ تر درویشته کالو ورسته هم د هغه نامتو مورخ تشه ډکه نه شوه بلکي لایي د بشپړکمبود احساس کوو . موږ په داسي حال کي د استاد کهزاد د سترو نوښتګرانه او ملي _ تاریخي لیکونو څخه بې برخه یو چي اوس یې اړتیا تر پخوا څو واره زیاته شوېده.

له بده مرغه موږ په داسي حالاتو کي اوسیږو چي له یوې خوا د کهزاد په څیر د ملي تاریخ لیکوال او څیړونکي څخه بې برخي یو او له بلې خوا قلم او کاغذ د یوشمیر داسي کسانو لاس ته رسېدلي چي د هېواد ملي کټو ته هیڅ پام نه ساتي. سمه ایزو، ژبنیزو اوګرویپکو کټو یې پر سترګو توري تیاری خپری کړي او د تاریخي لیکنو تر سر لیک لاندي داسي ناوړه خپروني کوي چي نه یوازي د تاریخي ارونو سره سمون نه خوري بلکي په هېواد کي د میشتو اولسوتر منځ د نفاق او بد بختئ زهرشندي . په دې هیله چي د استاد کهزاد ستر او سپېڅلي روح ته مې د هغه د لاري د یوه پیرو او لاوري په توګه خپله دنده تر سره کړې وي دا دی د هغه استاد د تلین درویشتم کال په مناسبت (( کهزاد د افغاني پوهانو له نظره )) یوه لنډه لیکنه خپرېدو ته چمتو کوم .

باوري

دمرحوم کاندید اکادمیسن محمد ابراهیم عطایي په نظر استاد کهزاد علاوه پر دې چي د هېواد نامتو مورخ دئ، د هیواد برلاسئ میتولوژیست هم دئ نوموړئ لیکي : د مرحوم کهزاد په علمي او ارزښتمنو کارو کي یو هم د افغانستان پخوانئ تاریخ او په هغه کي د ار یا ئیانو پر تولنیز ژوندانه او قبلوي جوړښت پراخ بحث دئ چي هغه وخت یې هم ارزښت درلود او اوس یې دا ارزښت څو چنده سوېدئ. او بیا لیکي : د مرحوم کهزاد د افغانستان پخواني تاریخ کي دیر په زړه پوري علمي مواد سته او د لیکني دول یې لوستونکو ته په تاریخ کي تر شا پاته طلايي عصر او تمدن تداعي کوي. ( ۲٤ : عطایي)

دمرحوم پوهاند داکتر جلا الدين صديقي له نظره د استاد کهزاد هغه پاملرنه چي د تاریخ لیکني په برخه کي یې د ارشیفي اسنادو په اړه لري یوه ارزښتمنه ځانګړتیا ده ، نوموړئ لیکي : مرحوم کهزاد یکي از پژوهشګران میهن پرستی است که خود به پرابلمهای تاریخنویسی در کشور از جهت کمبود بها ی مواد و اسناد درجه اول اشاره کرده و ضرورت ګرد اوری انهارا چنین خاطر نشان ساخته است : ( در نوشتن تاریخ معاصر هر قوم و ملیتی اسناد خطی خانوادګی که اروپائیان ( ارشیو فامیلي ) میګویند اهمیت زیاد دارد و مبنای تاریخ معاصر بیشتر بران ګذاشته شده است، ولی هر قدر که وجود این اسناد ضرور است ، دست یافتن بدان به مراتب مشکل تر میباشد. ) ( ٤۳ : صدیقی )

مرحوم سر محقق دوست شنواری  د استاد کهزاد په اړه ليکي : کله چي په ۱۳۲۵ کال د مرحوم استاد کهزاد (د افغانستان پخوانۍ تاريخ ) په دوو ټوکو کي خپور شو، نو دا واقعآ يو ستر کار ؤ، چي زموږ د هېواد د لرغوني تاريخ او فرهنګ په باب يې زښت ډير حقايق او افتخارات او نهايت زيات قيمتي معلومات د زماني او لرغوني تاريخ په تاقچو کي له خاورو او دوړو را وايستل او د خپلو هېوادوالو په مخ کي يې کښيښودل چي موږ ورته په ډيره درنه سترګه ګورو. ( ۷۳ : شينواری)

د استاد مايل هروی په نظر  استاد کهزاد هغه مورخ دئ چي په خپلو ليکونو يې لوستونکي د هېواد په لرغوني  تاريخ په پوره روښانتيا پوهولي دي، نوموړی ليکي : همانطور يکه مورخ با نګاه ژرف و کنجکاوانه کوی وبرزن  ومينار وستوپه، لوحه سنګ منقوش و سيکه زيبا ی باستاني و سنه کتبی و سائر پديده ای تاريخي را در مينګرد و اثری بازيافته از کاويشها بميان ميا يد ، انګا هست که  کهزاد به مثابه مورخ ژرفنګر   بينش خويش را و تصور اين نګريش را بزبان شيوا و فهما ادا ميکند.) ( ۸۱ : هروی )

زلمی هېواد مل د هېواد نامتو ليکوال  استاد کهزاد د هېواد د اوسنيو او راتلونکو نسلونو مورخ ګڼي، نوموړئ ليکي : استاد احمد علي کهزاد ( ۱۳۶۲ ه . ش . مړ ) زموږ د هېواد د معاصر فرهنګ يوه روښانه څيره ده. څيرني او پلټني به يې د دې هيواد د لرغوني او معاصر تاريخ  د ډيرو تاريکو برخو د رڼولو په لړ کي تر مودو مودو پوري د ډيري منني او يادوني وړ وي. ارواښاد کهزاد په خپلو لسګونو تاريخي ، جغرا فيا يي  او د لرغونپوهني  په تحقيقي اثارو او سلګونو مقالو کي  د افغانستان د تاريخ  او زړي جغرافيې  په اړه داسي  ټکو ته اشاري کړي دي چي د بل افغان مورخ په ليکنو کي به يا نه وي راغلي او که راغلي هم وي نو د ارواښاد کهزاد په حوا له به ليکل شوي وي. ( ۸۹ : هېواد مل)

د هيواد د نامتو ليکوا ل  محمد اکبر شور ماچ   له نظره استاد کهزاد يو ستر نورستان پوه ( نورستانشناس ) ګڼي او ليکي : استاد کهزاد با علاقمندي و عشق  خاصيکه به مردم ، وطن وتاريخ کشور داشت  با چيره دستی خاص توانست موجوديت، هويت  و تبارز تاريخي وطن  و مردمانرا که از زمان باستان زير ابر  های تيره وتار تاريخ پنهان و مستور مانده بود، اشکار سازد و افغانستان  را بحيث يکي از کانون های قديم و باستانی که در قلب اسيا مو قعيت دارد معرفی و به اثبات برساند. ... هيچ يکی از نويسنده ګان و محققين کشور ما مانند استاد کهزاد پيرامون نورستان نه نوشته  وتحيق و نه تتبع  نموده اند.  دانشمند و مورخ  شهير کشور ما با ژرفنګری  خاص و ديد وسيع  منشا خونی، افتخارات تاريخی  و  ديګر ګوشه های زنده ګي مردم نورستان را د را ثار خويش هم بصورت ضمنی، هم مقايسوی و هم مستقلانه ګنجانيده که از لحاظ تاريخی و اجتماعی از اهميت زيادی برخوردار ميباشد. ( ۱۰۳ : شورماچ )

رسول باوري  استاد کهزاد د هېواد دنامتو لرغونپوه په توګه پيژني او ليکي : استاد کهزاد او په افغانستان کي د لرغونو څيړنو بهير داسي تړاو لري چي د کهزاد د نوم پرته په افغانستان کي د لرغونو څيړنو پيل د پوهېدلو نه دئ. ( ۱۲۸ : باوري )

د کابل پوهنتون استاد پوهندوئ شا محمد محمود په نظر  استاد کهزاد د تاريخي جغرافيا نامتو پوه اود څوانو څيړونکو لپاره  سترلار ښود دئ، نوموړئ ليکي : مقالات و نبشته های متعدد از استاد کهزاد پيرا مون جغرافيايي تاريخي داريم که نهايت ارزشمند است ... استاد کهزاد با استفاده از اوستا نامهای مناطق مختلف را نشان داده است. در اوستا باب اول ، حصه سوم ان ونديداد سر اسر يک بحث جغرافيايي است و از شانزده قطعه زمين بحث ميکند که از نقطه نظر تاريخ، جغرافيا، مهاجرت اريا ئيها ، مدنيت ار يا يي دارای اهميت فوق العاده بزرګ است. و استاد کهزاد انرا به وضاحت لازم روشن نموده است . ( ۱۳۸ : محمود )

د افغانستان د علومو اکادمي علمي غړئ محقق مير احمد ګربز  استاد کهزاد د لرغونو اريائيانو د فکلوريکو ادبياتو ستر څيرونکئ ګڼي، نوموړئ ليکي : جرګه د اوسني افغانستان لپاره هم  هغه ارزښتمنه موسيسه ده چي  د ملی او سيمه ايزو ستونزو د حل،  لاري چاري مومي . پياوړي مورخ  کهزاد د اريا ئيانو د مهال هغه جرګي په ټول توان او هر اړ خيزه توګه را څيرلي او څرګندي کړېدي چي هغه مهال د بيلا بيلو ستونزو د حل ا و فصل لپاره يي کارولي دي.  تاريخي متون، د تاريخي ليکني  لپاره يوه ستره منبع ګڼل کيږي، استاد کهزاد  د افغانستان پخوانۍ تاريخ  او په خاصه توګه  اريائيان او د هغوی د مدنيت  په باب  ټول مواد له همدغو مدنيتونو څخه د را پاته متونو پر بنسټ د پيژندلو وړ ګرځولي دي . ( ۱۵۷ : ګربز )

پوهنوال  داکتر خالق رشيد  د کابل پوهنتون پخوانیاستاد د پښتو ژبي د منشا په اړه مرحوم استاد کهزاد يو له هغو نامتو څيرونکو څخه ګڼي چي ليکني او څيرني يي پخي او د درنښت وړ دي، نوموړی ليکي : موږ په خپل هېواد او

تاریخ  لیکونکو کي  د ګوتو په شمار کسان لرو، خو که د ګوتو په شمیر کي  بیا هم د خپل هېواد او تاریخ په وړاندي ټاکنه کوو، زه فکر کوم چي د استاد کهزادنوم او یادونه د لومړي توب حق تر لاسه کوي. دا ځکه چي ده په خپلو تاریخي هستونو کي د ملي تاریخ لیکني ټول ارونه په نظر کي نیولي دي . پیښې، او حوادث یې د یوه رښتني مورخ په توګه په پام کي نیولي، او په لیکونو کي یې خپل ملي کرکتر له پامه نه دي لیري کړی .کهزاد د یوه ملیت نه بلکي د یوه ملت مورخ دئ. د کهزاد ملي ځانګړني د تاریخ لیکني په برخه کي دومره په زړه پوري دي چي  په رښتیا د ملت رښتینې  هنداره ګڼل کیږي.

پای

چي افغانستان وي استاد کهزاد به ژوندئ وي